

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مــاشوم روزنې ۱۳۰ ټكي

Ketabton.com

ليكوال: ډاكټر احمد المزيد

اردو ژباړه: طالبعلم صلاح الدين

پښتو ژباړه: رحمت شاه (فراز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب په اړه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم: | ............. | د ماشوم روزنې ۱۳۰ ټکي |
| ليکوال: | ............. | دوکتور احمد المزيد |
| اردو ژباړه: | ............. | طالبعلم صلاح الدين |
| پښتو ژباړه: | ............. | رحمت شاه (فراز) |
| ډيزاين او کمپوز: | ............. | رحمت شاه (فراز) |
| د ژباړې نېټه: | ............. | 2018، 24، جولای، دوشنبه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**الحمد الله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، اما بعد:**

د ماشومانو روزنه يو فن دی او ډېری خلک له دې فن څخه ناخبره دي. د ماشومانو د روزنې اړوند په ټوله نړۍ کې ګڼ شمېر کتابونه ليکل شوي دي. ((ډاکټر احمد المزيد)) په لنډ ډول د ۱۳۰ ټکو په ليکلو د مېندو او پلرونو يوه لويه ستونزه هواره کړې. د دې ۱۳۰ لارو په وسيله ماشومان نېغې لارې ته راوستل کېدی شي. وايي چې د روزنې په پيل کې لږ ناړامې د ټول ژوند لپاره د اوږو بار ګرځي.

د کتابونو په دې انبارونو او د وخت اړتيا ته په کتو دا کتاب يو داسې لنډيز دی چې په لنډ ډول پکې د ماشومانو د روزنې په اړه ټولو خلکو او په ځانګړي ډول مور او پلار ته لارښوونې شوې دي. ښايي د دې هڅې له امله خلک د خپلو ماشومانو د روزنې په اړه ګټور پوهاوی ترلاسه کړي او د همدې لارو په خپلولو له خپلو ماشومانو څخه د درناوي مېوه ترلاسه کړي. دا ۱۳۰ ټکي په لنډ ډول راوړل شوي دي، هر کس د خپلو حالاتو له مخې درس ترې اخيستی او کاروی شي. الله تعالی دې زموږ د ټولو ملاتړی او مرستندوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقیده

۱- د یو والي عقیده باید د ماشوم په زړه کې له کوچنیوالي وپالل شي. پکار ده چې ماشوم پوه کړی شي چې په ((لا اله)) کې د دې خبرې نفي شوې چې اړتیا پوره کوونکی او معبود نشته... ((الا الله)) کې باید دا ورته ثابت کړی شي چې یوازې الله تعالی هغه ذات دی چې د ټولو پالونکی دی. لنډه یې دا چې ماشومانو ته باید لومړۍ کلمه او د هغې معنا په ټینګار سره ور زده کړی شي.

۲- له ماشوم نه پوښتنه وکړئ چې الله تعالی موږ ولې پیدا کړي یو؟ د پوښتنې له امله به له ماشوم سره د ځواب موندلو تنده پیدا شي. نو اوس هغه ته ور زده کړئ چې الله تعالی موږ ټول د خپل عبادت او د هغه د احکامو د پر ځای کولو لپاره پیدا کړي یو. موږ ته ښايي چې په هر کار کې د الله تعالی خوښه ولټوو.

۳- د ماشوم په ذهن کې باید د جهنم او د الله تعالی د عذاب تصور ډېر وانه چول شي. تر څو د هغه په ذهن کې د الله تعالی په اړه یوازې وېره او ډار شتون ونه لري. بلکې هغه ته باید ور وښیو چې د ښو ښو کارونو په کولو به دا دا نعمتونو ترلاسه کړو. هو، که ماشوم کله شوخي وکړي نو ښه به وي چې په کمه کچه یې له جهنم او عذاب څخه هم ووېروو.

۴- ماشوم ته باید هر وخت د الله تعالی نعمتونه ور یاد کړی شي. هغه ته ور وښيئ چې الله تعالی موږ ټول داسې ښکلي پیدا کړي یو، موږ ته یې دا ښایسته نړۍ راکړې، موږ ته یې خواړه راکړي، پیسې یې راکړې او داسې نور. په دې سره به د ماشوم په زړه کې د الله تعالی مینه را وټوکېږي.

۵- د ماشوم په ذهن کې دا خبره په ښه ډول ور ځای کړئ چې الله تعالی موږ په هر حال کې ویني. که څه موږ یوازې یو، په بند اطاق کې یو، یا هم په څادر کې پټ یو. د همدې لپاره پکار ده چې په یوازیتوب کې هم د بدو چارو په اړه فکر ونه وکړو.

٦- ماشوم ته دعاوې ور زده کړئ. د هر کار په پیل کې بسم الله ویل، له ډوډۍ څخه وروسته الحمد الله ویل. او دغه راز نور اذکار او دعاوې ور زده کړئ.

۷- د ماشوم په مخکې پرلپسې د پیغمبر ﷺ د نېکو اخلاقو او سپېڅلو صفاتو یادونه کوئ. تر څو د هغه په زړه کې د پیغمبر ﷺ مینه ځای وکړي. د هغه په وړاندې د سپېڅلي سیرت کیسې په ښکلي اسلوب وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډول به ماشوم نبي کريم ﷺ د ځان لپاره يو ايډيال (نمونه) وګرځوي. ماشوم په پيغمبر ﷺ باندې پر درود لېږلو عادت کړئ.

٨- ماشوم د قضا او قدر پر عقيده پوه کړئ. په دې يې پوه کړئ چې الله تعالی څه غواړي هغه کېږي او څه چې نه غواړي هغه پخپله نه شي کېدی. هر څه د الله تعالی د قدرت په ولکه کې دي.

٩- ماشومانو ته د ايمان پنځه ارکانه ور زده کړئ، يعنې: سپېڅلې کلمه، لمونځ، روژه، زکات او حج.

١٠- له ماشوم نه د عقيدې اړوند پوښتنې وکړئ. مثلاً له هغه وپوښتئ چې ستا رب څوک دی؟ ستا دين څه دی؟ ستا پيغمبر څوک دی؟ موږ چا پيدا کړي يو؟ موږ ته څوک رزق راکوي؟ څوک موږ ته خواړه راکوي او له ناروغيو شفا راکوي؟ توحيد څه شی دی؟ کفر او نفاق څه شی دی؟ د مشرک، منافق او کافر پايله څه ده؟ او داسې نور.

## عبادت

١١- خپل ماشوم ته د اسلام پنځه ارکانه ور وپېژنئ.

١٢- هغه له لمانځه سره عادت کړئ. په حديث شريف کې راځي: ((کله چې ستاسې ماشومان اوه کلن شي نو پر لمانځه يې پابند کړئ او کله چې لس کلن شي، نو د لمانځه په نه کولو يې ووهئ.))

١٣- هلکان له ځان سره د لمانځه لپاره بيايئ او هغوی ته د اوداسه طريقه ور زده کړئ.

١٤- ماشومانو ته د جومات درناوی او اداب ور زده کړئ. هغوی د جومات د سپېڅلتيا ساتلو په لور وهڅوئ.

١٥- ماشومان له روژې نيولو سره عادت کړئ څو په لويينې کې د روژې نيول ورته ستونزمن نه وي. پکار ده چې د روژو په نيولو يې حوصلې لوړې کړو.

١٦- په ماشومانو کې د قرآن کريم د حفظ کولو لېوالتيا پيدا کړئ. نبوي احاديث، اوراد او اذکار ور زده کړئ. د هغوی په وړاندې د قرآن کريم د حفظ کولو ثواب او درجات ياد کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷- هر کله چې ماشوم په درس کې پرمختګ وکړي، نو له هماغه سره سم انعام ورکړئ او حوصله يې ور لوړه کړئ. حضرت ابراهيم بن ادهم (رح) فرمايي، زما پلار يوه ورځ راته وويل: ((اې زويه! د حديثو علم ترلاسه کړه او هر کله چې تا کوم حديث واورېد او زده دې کړ نو تا ته به يو درهم درکول کېږي.)) ابراهيم بن ادهم فرمايي: ((همدې هڅونې او د انعام ترلاسه کولو لېوالتيا زه د حديثو له علم څخه برخمن کړم.))

۱۸- ماشوم بايد هر وخت په ليک، لوست او د مدرسې په کارونو کې بوخت ونه ساتل شي تر څو ماشوم دا کارونه د ځان لپاره سزا ونه ګڼي او د قرآن کريم له حفظ او نورو درسونو څخه زړه تورنی نه شي.

۱۹- پوه شئ! تاسې د خپلو ماشومانو لپاره ايډيال او لارښود ياستئ. اوس که تاسې د عباداتو او الهي احکاماتو په ترسره کولو کې له تنبلۍ او غفلت څخه کار واخلئ نو ماشومان به هم له تاسې ناسم اغېز واخلي او د عباداتو ترسره کول به پر ځان بوج وګڼي او په پرېښودو به يې هېڅ لړزانده نه وي.

۲۰- خلک ماشومانو ته پيسې ورکوي او ماشومان زياتره وختونه هغه پيسې زېرمه کوي. په داسې صورت کې کله نا کله د ماشوم په مخکې له خپل جېب څخه کوم بېوزلي ته يو څه ورکوئ. يا يې د ماشومانو په لاس ورکوئ. په دې سره به په ماشومانو کې د الله تعالی په لاره کې د صدقې مينه او ځواک پيدا شي. هغوی ښه وهڅوئ چې له خپله جېبه څه نا څه خامخا د الله تعالی په لار کې ولګوي. تاسې د احاديثو او د صدقې د فضايلو په اورولو هم د ماشومانو په ذهن کې دا خبره ور کېنولی شئ.

## د اخلاقو ښوونه

۲۱- که غواړئ چې خپل ماشومان د رښتينولۍ ښېلګه وګرځوئ نو د هغوی په زړونو کې د وېرې تخم مه کرئ. ځکه که د رښتيا په ويلو هغوی يو ځلې وهل وخوري نو پر دوهم ځلې تېروتنې به هېڅکله رښتيا ونه وايي بلکې د درواغو يوه کيسه به راجوړه کړي او د ځان د ژغورلو هڅه به وکړي.

۲۲- خپل ځان د رښتينولۍ او صداقت ښېلګه کړئ. له غولونې او ناوړه خبرو ځان وساتئ. بيا وګورئ ماشوم به مو هم له تاسې رښتينولي او صداقت زده کړي.

۲۳- ماشومانو ته تل د امانت او رښتينولۍ درس ورکړئ او پر هغه ترلاسه کېدونکي اجرونه او انعامونه ياد کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴- په غیر محسوس ډول ماشوم وازمایئ چې څومره امانت ساتونکی او څومره د باور وړ دی.

۲۵- په ماشوم کې د صبر عادت وروزئ. په یوه کار کې له بېړې کولو او بې فکره د یوه کار له کولو یې منع کړئ. په دې خبره باندې د ماشوم د ښه پوهاوي لپاره کولی شئ په هغه روژې ونیسئ. یا داسې کارونه پرې وکړئ چې په هغو کې له صبر او انتظار پرته بله هېڅ چاره نه وي. ترڅو ماشوم د ډاډ او صبر له مفهوم سره بلد شي.

۲٦- ټولو ماشومانو ته په یوه سترګه وګورئ. بې علته یو چاته زیات وخت مه ورکوئ تر څو نور ماشومان ځان کم ونه ګڼي. د مساوي چلند په کولو به د هغوی په ذهنونو کې د عدل صفت ریښې وکړي.

۲۷- ایثار وایي نورو ته پخپل ځان لومړیتوب او ترجیح ورکولو ته. ماشومان عادت کړئ چې هغوی تل نور خلک له ځان څخه لوړ وګڼي. هغوی ته د صحابه کرامو د ایثار کیسې واوروئ.

۲۸- په غولونې، ملاوټ، درواغو او غلا باندې څومره لویې سزاګانې ورکول کېږي او الله تعالی پرې څومره خفه کېږي؟ د ماشومانو په مخکې د دې څرګنداوی وکړئ تر څو له دې ډول رټل شوو کارونو څخه د تل لپاره ځان وساتي.

۲۹- ماشوم که په کوم ځای کې زړورتیا وښیي نو افرینی پرې ورکړئ. هغه ته وښیئ چې زړورتیا او مېرانه د مسلمان لپاره خورا اړینه ده. الله تعالی هم زړور مؤمنان خوښوي.

۳۰- د سختي لهجې او د ډېر زیات رعب اچولو له امله د ماشومانو په ذهن کې ستاسې ناسم تصور ځای نیسي. له دا ډول لهجو ځان وساتئ.

۳۱- ماشوم له عاجزۍ او خاکسارۍ سره روږدی کړئ. له تکبر او لویي کولو یې منع کړئ. د تکبر په غوره کولو انسان په هماغه وخت د خلکو له سترګو لوېږي. په دې معنا چې د تکبر سزا ډېره ژر ورکول کېږي.

۳۲- د ماشوم په ذهن کې د دې خبرې پخلی وکړئ چې د ښې کورنۍ او د مال او اسبابو له امله چاته لوړې درجې نه ورکول کېږي. بلکې د تقوا او د نېکو کارونو په ترسره کولو خلک پرمختګ کوي او بریا مومي.

۳۳- ماشوم ته وښیئ چې ظلم او زیاتی د بې زړه خلکو کار دی. لاس اچول او خبره نه منل انسان د ذلت په کنده کې غورځوي. خیانت کوونکی د هلاکت په لور درومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۴- په ځینو شیانو کې چې ډېر نازکه توپیرونه شتون لري، ماشومان باید له هغو خبر کړی شي. مثلاً دا چې د زړورتیا او بې ځایه ظلم او مداخلت کولو تر منځ څه توپیر دی؟ حیا او شرمندګۍ څه توپیر لري؟ په عاجزۍ او ذلت کې څه توپیر دی؟ په هوښیارۍ او غولونې کې څه توپیر دی؟ دا ډول نورې هغه خبرې چې ماشوم پرې نه پوهېږي، هغه ته یې ور ښیئ او په دې یې پابند کړئ چې په هغو کې ښه کارونه را خپل کړي او له بدو کارونو ځان وساتي.

۳۵- اولاد مو پراخ لاسی (سخي) اموخته کړئ. داسې چې په کور کې هم پراخ لاسی وي او په خپل ځان باندې نورو خویندو وروڼو ته لومړیتوب ورکړي او له کوره بهر هم د نېکیو او احساناتو ترسره کوونکی وي.

۳٦- له یو چا سره کړې ژمنه تل پوره کوئ.په ځانګړې ډول له ماشومانو سره چې د کوم شي ژمنه شوې وي هغه پخپل وخت تر هغو ور ورسوئ، څو ماشومان مو د ژمنې له پرځای کولو سره روږدي شي او د ژمنې له ماتولو څخه د ځان ساتنې عادت خپل کړي.

## د روزنې لارې او اسلامي اداب

۳۷- کور ته د ننوتو پر مهال په ماشومانو باندې سلام واچوئ. هغوی هم له سلام اچولو سره عادت کړئ.

۳۸- د ماشومانو په مخکې جامې او داسې نور مه بدلوئ. که اړین وي نو د پردې خیال وساتئ او د ماشومانو په مخکې د ستر له پرانیستلو ځان وساتئ.

۳۹- له ګاونډیانو سره ښه چلند وکړئ. ماشومان هم د ګاونډیانو له حقونو خبر کړئ.

۴۰- ګاونډیانو ته له تکلیف او کړاو رسولو څخه د ځان ساتنې ترغیب او درس ورکړئ.

۴۱- مور او پلار د ښه چلند ډېر مستحق دي. د چا چې مور او پلار ژوندي نه وي، له هغو د هغوی قدر وپوښتئ نو یو څه اندازه به درته ولګېږي. یو چا څه ښه ویلي دي:

پیار کہتے ہیں کسے اور مامتا کیا چیز ہے
کوئی ان بچوں سے پوچھے جن کی مرجاتی ہے ماں!

[اردو ژباړن]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مـــــــــینه څه ته وایـي او دا څه وي د مور مینه**

**ودې پوښتي هغه چې يې مــــور په گور کې وینه**

**[پښتو ژباړن]**

**له همدې امله له والدینو سره ډېر ښه چلند وکړئ. له خپلوانو سره مو اړیکې وپالئ. پر هغوی پام وساتئ. په غم او ښادۍ کې يې گډون وکړئ. خپل ماشومان په دې ټولو چارو کې له خپل ځان سره ولرئ او هغوی ته هم له والدینو او خپلوانو سره د ښه چلند لارښوونه وکړئ.**

**۴۲- ماشومانو ته وښیئ چې خلک له هغه ماشوم سره مینه کوي چې مهذبه وي او نورو ته له ضرر رسولو ځان ساتي.**

**۴۳- پخپله د خپلو ماشومانو لپاره د هغوی په نوم یو لیک یا یو لنډ کتابگوټکی ولیکئ چې پکې اداب، پندونه او سپارښتنې وي. ماشوم به دا ډول شیان له ځان سره ساتي او کله چې لوی شي، پر هغو به عمل کوي.**

**۴۴- ماشومانو ته باید وښودل چې ځینې کارونه شیطاني کارونه وي چې له هغو نه د تل لپاره ځان ساتل پکار دي لکه درواغ ویل، دوکه ورکول، کنځلې کول او داسې نور.**

**۴۵- د ورځې په پای کې له خپلو ماشومانو سره کېنئ، خبرې ورسره وکړئ او هره ورځ له نبوي ادابو څخه یو ادب ور وښیئ. بیا د پخوانیو ادابو په اړه د هغوی د عمل په باب پوښتنې وکړئ چې دوی پر هغو څنگه او څومره عمل کوي. که امکان لري نو لیکل شوي اداب په ماشومانو ولولئ او تاسې ورته غوږ کېږدئ او تېروتنې يې ور سمې کړئ.**

**۴۶- که له ماشوم نه تېروتنه وشي، د ټولو په مخکې يې له رټلو او سزا ورکولو ځان وساتئ. هو، په یوازیتوب کې يې پوه کړئ او د بدو کارونو له پایلو يې خبر کړئ.**

**۴۷- ماشومان د امکان تر بریده ملامت او د خپلې غوسې نښه مه گرځوئ. بلکې یوه ښه موقع ورته وگورئ – داسې چې مناسبه وي – بیا له ماشومانو سره پر اعتدال ولاړ چلند وکړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۸- د ماشومانو کوټې ته له ورتگ مخکې،له هغو اجازه وغواړئ. په دې ډول به ماشومان یو چېرته له ننوتو مخکې د اجازې له اخیستلو سره عادت شي. او په دې ډول به د اسلام د ((استیذان)) پر حکم عمل ورته شونی شي. که د ناڅاپه ورننوتو له امله کوم کار درنه پټ کړي نو په راتلونکي کې به یې په داسې طریقو وکړي چې د کوښښ سربېره به هم تاسې پرې پوه نه شئ. ځکه شیطان د بدو کارونو لپاره نوې نوې لارې پرانیزي. هو، پکار ده چې کله نا کله په پټه توگه د ماشومانو څارنه او د هغوی د ملگرو په اړه پوښتنه گروېږنه وشي.

۴۹- دا تمه مه لرئ چې ماشوم به په یو ځل پوهولو پوه شي او بیا ځلې به ورته د کوم څه ښودلو اړتیا نه وي. بلکې ماشومانو ته یې باید هر وخت ور په یادکړئ او ویې څارئ.

۵۰- کله چې ټول د ډوډۍ لپاره کېني نو له ډوډۍ پیلولو مخکې په لړ لوړ غږ بسم الله ووایئ. څو ماشومان له ډوډۍ خوړلو مخکې له ((بسم الله)) ویلو سره روږدي شي. په همدې ډول له ډوډۍ وروسته ((الحمدالله)) ووایئ.

۵۱- انسان تل تېروتنې کوي. په ځانگړي ډول ماشومان خو بیا هر وخت شوخي کوي. د ماشومانو په هره تېروتنه او هره شوخي د هغو نیول، رټل او سزا ورکول عادت مه گرځوئ، بلکې ځینې وختونه پرې سترگې هم پټوئ. پخپله سینه کې د ماشومانو د شوخیو او تېروتنو کتاب مه پرانیزئ.

۵۲- که په کوم کار کې له تاسې تېروتنه وشي نو د ماشوم په وړاندې باید له ښښنې غوښتلو ونه شرمېږئ. کېدی شي هغه ستاسې د ښښنې غوښتنې له چلند نه ښه درس واخلي.

۵۳- ماشوم ته گټه او تاوان ور وپېژنئ. هغه دې ته تیار کړئ چې ته یو با ادبه ماشوم یې او ته به د ښه او بد کار تر منځ له فرق کولو وروسته، ښه کار ترسره کوې او له بد کار نه به ځان ساتې.

۵۴- ماشومانو ته کوم ځانگړی کار ور وسپارئ چې هغوی پر همدې کرښو په راتلونکي ژوند کې کار وکړي. مثلاً یو ماشوم د معلم کېدو لپاره وهڅوئ، بل د پیلوټ کېدو او یو بل د ډاکټر کېدو او داسې نور.

۵۵- د ماشومانو په خبرو یا کوم کار پورې ټوکې او رشخند مه وهئ. په دې ډول د ماشوم پر نفس اعتماد (self - confidence) کمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵٦- ماشومانو ته د مبارکۍ، ښه راغلاست او خدمت پر مهال کارېدونکي الفاظ ور زده کړئ.

۵۷- د ماشومانو ناز او نخرو ته په غاړې اېښودو کې مبالغه مه کوئ.

۵۸- د دنیا په مادي شیانو کې باید د ماشوم ذهن بوخت نه کړی شي. په مادیت باندې د باور په صورت کې په انسان کې د اعتماد ځانګړنه کمېږي او د پیاوړي ګام اخیستو وړتیا له لاسه ورکوي.

۵۹- د ماشومانو ملګري شئ او د ملګرو په څېر چلند ورسره وکړئ تر څو هر ډول مسئله درسره شریکولی وشي.

## ماشومانو ته د لوبو او ورزش وخت ورکړئ

٦٠- ماشومانو ته د لوبو لپاره کافي وخت ورکړئ تر څو جسماني روغتیا یې هم ښه وي او په ماشومانو کې د لوبو کومه هیله او خواهش چې وي هغه هم پوره شي.

٦١- هغوی په ګټورو او ذهن روښانونکو لوبو بوخت کړئ.

٦٢- هغوی ته خپلواکي ورکړئ چې پخپله هر څه غواړي ترسره کړي. البته څارنه یې وکړئ.

٦٣- ماشومان له لامبو، نښه ویشتلو او داسې نورو فعالیتونو سره اشنا کړئ.

٦۴- له ماشومانو سره لوبې وکړئ او کله نا کله د بریا په صورت کې هم لوبه ترې وبایلئ.

٦۵- ماشومانو ته باید ګټور روغتیایي خواړه ورکړی شي.

٦٦- د ماشومانو توکو او خوراک څښاک او ... ته پاملرنه کوئ.

٦۷- د خوراک څښاک په معامله کې په ماشومانو پام ساتئ چې له بریده تېری ونه کړي یا بېکاره شیان ونه خوري.

٦۸- که ماشوم کومه شوخي کړې وي نو د ډوډۍ پر مهال باید ونه وهل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶۹- په ماشومانو د هغوی د خوښې خواړه وخورئ. کوم خواړه چې هغوی ته په زړه پورې نه وي، په زوره یې مه پرې خورئ.

## ذهني وده

۷۰- د ماشوم خبره باید په غور واورېدل شي او هر ټکی یې په بشپړې پاملرنې سره له اورېدو وروسته د هغه ستونزه حل کړی شي.

۷۱- ماشوم ته داسې روزنه ورکړئ چې خپلې ستونزې پخپله حل کول زده کړي. که تاسې پوهېږئ چې له کوښښ سربېره هم نه بریالی کېږي نو په پټه په داسې ډول له کومک ورسره وکړئ چې پرې پوه نه شي. له داسې کولو به په هغه کې د پرمختګ حوصله او پر ځان باور پیدا شي.

۷۲- ماشوم ته د عزت او مینې په سترګه وګورئ. که کوم ښه کار وکړي نو ښه عوض او بدله یې ورکړئ.

۷۳- ماشومان د قسمونو خوړلو ته مه اړ کوئ بلکې د رښتیا ویلو رزونه ورکړئ او په ذهن کې یې دا خبره ورځای کړئ چې پرته له قسم کولو هم ستا خبره سمه ګڼل کېږي.

۷۴- د زیات ډارولو او سزا ورکولو له خبرو ځان وساتئ.

۷۵- ماشوم ته دا احساس مه ورکوئ چې هغه بد هلک دی یا نالایق او تنبل دی.

۷۶- زیاتره ماشومان ډېرې پوښتنې کوي. په دې صورت کې د پوښتنو په کولو باید ونه وهل شي، بلکې د ټولو پوښتنو ته یې څرګند او ډاډ بښونکي ځوابونه ورکړئ.

۷۷- ماشوم په مینه او محبت سینې ته راجوخت کړئ او دا احساس ورکړئ چې مور او پلار درسره ډېره مینه لري. او ته پر هغوی ډېر ګران یې.

۷۸- په ځینو چارو کې له ماشومانو مشوره وغواړئ او د هغه پر مشوره عمل وکړئ. که په کومه خبره نه پوهېږي نو پوه یې کړئ او اصلاح یې کړئ.

۷۹- د کور دننه د خپلې خوښې په ځای کې د اوسېدو په معامله کې د ماشوم طبیعت ته وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ټولنيزو مرکزونو او حلقو کې د ماشوم روزنه

۸۰- ماشومان د منډو، د قرآن مجيد حفظولو او علمي سياليو ته ور ولئ. د قرآن کريم د حفظولو په حلقو کې يې کېنوئ. په نورو تفريحي فعاليتونو کې برخه ورکړئ تر څو په ماشومانو کې اضافي وړتياوې ورو‌زل شي.

۸۱- ماشوم ته مېلمه پالنه ور وښيئ. روزنه ورکړئ چې د مېلمنو په مخکې خواړه، چای يا مېوه په ښه ډول اېښودل کېږي او د خوړلو بلنه څنګه ورکول کېږي.

۸۲- کله چې تاسې له خپلو ملګرو سره ناست اوسئ او په دې وخت کې مو ماشوم راشي نو هرکلی ورته ووايئ او نورو ملګرو ته يې په ښه ډول ور وپېژنئ.

۸۳- په ټولنيزو او مرستندويه فعاليتونه کې ماشومانو ته د برخې اخيستو موقع ورکړئ. مثلاً د يتيمانو او کونډو د خدمت او مرستې کولو په ځای کې ماشومان ور وړاندې کړئ تر څو په هغوی کې د ټولنې له بېوزله خلکو سره د مرستې جذبه را پيدا شي.

۸۴- ماشوم ته په بازار کې د پېر او پلور روزنه ورکړئ. د حلالې ګټې فضيلت او لارې چارې ور وښيئ.

۸۵- ماشومانو ته روزنه ورکړئ چې د نورو درد او خوَږ احساس کړي او څومره چې امکان لري د هغوی د کړاوونو په کمولو کې کومک ورسره وکړي.

ہیں لوگ وہیں جهاں میں اچھے
آتے ہیں جـــو کام دوسروں کے

**[علامه محمد اقبال رحمه الله]**

په دنيا کې ښه هماغه انسانان دي
چـې په ښه ورځې د نـورو انسانانو

[پښتو ژباړن]

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸٦- د ماشوم په اوږو د ټولې نړۍ بوج مه باروئ. په دې معنا چې د هغه په مخکې د نړۍ داسې انځور مه وړاندې کوئ چې له امله یې ماشوم ته د ټولې نړۍ فکر ور ولوېږي.

۸۷- که د ټولنیزې ګټې یا مرستندویه فعالیت هر ډول کار ترسره کوئ، نو د ماشوم په مخکې یې یادونه وکړئ.

۸۸- له کور نه بهر د ځینو کارونو لپاره ماشومان لېږئ. په دې اړه پر هغوی بشپړ باور ولرئ او وخت په وخت لارښوونې ورته کوئ.

۸۹- که ماشوم غواړي چې پخپله له کوم بل ماشوم سره ملګرتیا وکړي نو بې له کوم معقول لامله د هغه ملګرتیا له منځه مه وړئ. هو، ماشومانو ته د ښو او نېکو ملګرو د لټون نصحیت وکړئ.

## د ماشومانو روغتیا ته پام وکړئ

۹۰- د ماشومانو روغتیا ته ډېر پام کوئ. هغوی روغ ساتئ.

۹۱- ماشومانو ته په وخت ډوډۍ ورکوئ او په دې کار کې غفلت مه کوئ.

۹۲- د درملو څومره کچه چې ډاکټر ټاکل شوې وي، له هغه زیات ماشوم ته مه ورکوئ.

۹۳- په ماثورو دعاګانو او قرآني آیتونو یې دم کړئ.

۹۴- ماشوم د شپې له ژر ویده کېدو او سهار له وختي پاڅېدو سره عادت کړئ.

۹۵- د ماشومانو پاکوالي ته پاملرنه وکړئ. د هغوی بدن، غاښونه او جامې باید تل پاکې او ستره وي.

۹٦- د ناروغۍ زیاتېدو ته مه په تمه کېږئ، ماشوم پر وخت ډاکټر ته ور ښکاره کړئ او دوا او داسې نور ورته راوړئ.

۹۷- کوم خلک چې په ساري (نورو ته تلونکو) ناروغیو اخته وي، له هغو څخه ماشومان لرې وساتئ.

۹۸- ماشوم دې احساس ته مه پرېږدئ چې په کومه خطرناکه ناروغۍ اخته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹۹- د الله تعالی په حضور د ناروغۍ د شفا لپاره التجا او غوښتنه وکړئ. له ټولو مرضونو څخه شفا له الله تعالی نه وغواړئ او د هماغه لور ته مخ وګرځوئ.**

# اضافي فعالیتونه

**۱۰۰- ماشومانو ته معماوې یعنې چیستانونه ورکړئ او له هغوی یې ځوابونه وغواړئ.**

**۱۰۱- په ماشومانو مقالې ولیکئ. کومه موضوع ورکړئ او په هغې باندې په خپلو الفاظو کې د لیکلو دنده ور وسپارئ.**

**۱۰۲- ماشوم چې هر څه لیکي هغه لولئ. تېروتنې یې په نښه کوئ او هره ورځ د نوې اسلوب او کلماتو کارول ور زده کړئ.**

**۱۰۳- ماشوم که په عبارت کې کومه نحوي یا لغوي تېروتنه کوي نو پر وخت یې ور اصلاح کړئ. اصلاح یې بل وخت ته مه پرېږدئ، داسې نه چې یوه تېروتنه یې داسې پخه شي چې په راتلونکي کې هم د ماشوم په ذهن کې پاتې شي.**

**۱۰۴- په ماشوم باندې عبارت په لوړ غږ ولولئ تر څو پر ځان یې باور پیدا شي او تلفظ یې صحیح شي. او په ویلو کې ورته اسانتیا وي.**

**۱۰۵- ماشوم ته اختیار ورکړئ چې هغه کوم کتاب او کومه کیسه لوستل غواړي. د ښوونځي لخوا له ټاکل شوي نصاب پرته به دا یو اضافي فعالیت وي چې ماشوم به ترې ډېره ګټه ووینې.**

**۱۰۶- تاسې چې هر څه لولئ، خپل ماشوم هم د هغه په مطالعه کې درسره شریک کړئ او ځای ځای هغه ته لارښوونه کوئ. که تاسې د کوم لوی کتاب یا موضوع مطالعه کوئ نو ماشوم ته یې په لنډ او اسانه ډول ور وپېژنئ.**

**۱۰۷- په لوبو لوبو کې چې کوم درس ورکول کېږي هغه د ژوند تر پایه په حافظه کې ساتلی وي. تاسې هم پر ماشومانو ګټوري لوبې وکړئ او په پای کې په هغو کې د پټو درسونو یادونه ورته وکړئ.**

**۱۰۸- په ماشوم کې د ښوونځي په درسونو کې د لا زیاتو بریاوو لېوالتیا پیدا کړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰۹- ماشوم د زده کړې په وخت کې د حاضرۍ او زیار پابند کړئ تر څو په ازموینو کې ښې پایلې ترلاسه کړي.

۱۱۰- پخپله هم له شعر او ادب سره لېوالتیا پیدا کړئ او په ماشومانو باندې هم د پخوانیو خلکو شعرونه او ادبي پنځونې زده کړئ. له دې شیانو سره یې لېوالتیا پیدا کړئ. تر ټولو ښه خبره دا ده چې ماشومانو ته قرآني آیتونه او احادیث ور زده کړئ. په احادیثو کې ادب هم شته او پند هم!

۱۱۱- د عربي ادب یا په هره ژبه کې چې وي، ماشوم ته د هغه د فصاحت او بلاغت اړوند مثالونه او عبارات ور زده کړئ.

۱۱۲- د وینا ځواک او د خطابت ملکه داسې یو شی دی چې په وسیله یې انسان د خیر خبره په غوره اسلوب تر خلکو رسولی شي، پکار ده چې ماشومانو ته د وینا روزنه ورکول شي.

۱۱۳- د خبرو اترو او ورزش په سیالیو کې د ماشومانو لېوالتیا را وپنځوئ او ویې روزئ.

۱۱۴- د بدن د ځواکمنولو او قوي اوسېدو لپاره ماشوم له خپل ځان سره شریک کړئ.

۱۱۵- ماشوم ته د مورنۍ ژبې تر څنګ کومه بله مشهوره ژبه هم ور زده کړئ.

## په ښه کار ماشومانو ته انعام ورکړئ او د بد کار په کولو وړ سزا ورته وګورئ

۱۱٦- په کومو کارونو ثواب ورکول کېږي او په کومو کارونو الله تعالی خفه کېږي او سزا پرې ورکوي، په پوهوونکي او په زړه کې ځای نیوونکي انداز یې د ماشومانو په مخکې یادونه وکړئ. بیا کله چې ماشومان ښه کار وکړي نو هغوی ته انعام ورکړئ یا لږ تر لږه افرینی ورکړئ او که کومه شوخي وکړي نو له وخت سره سم وړ سزا ورکړئ، خو په سزا کې مبالغه مه کوئ.

۱۱۷- ماشومانو ته انعام ورکړئ، له سزا نه د امکان تر بریده ځان وساتئ.

۱۱۸- د انعام ورکولو ګڼې لارې کېدی شي. هر وخت پیسې ورکول ښه نه وي، بلکې ځای او وخت ته په کتو هماغسې انعام ورکړئ. مثلاً له ځان سره یې په کوم سفر بوځئ، په کمپیوټر کې د کوم ګېم کولو اجازه ورکړئ، کومه ډالۍ ورکړئ یا له ملګري سره دباندې د چکر وهلو اجازه ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱۹- سزاوې ډول وي. هرکله وهل ټکول د ستونزې حل لاره نه وي. کله یوازې په غوسې کتل هم بسنه کوي. کله بیا په ژبنۍ غوسې، کله تر یوې مودې پورې د خبرو اترو د نه کولو، کله بیا د ورځني لګښت د نه ورکولو او کله بیا د اونیزې تفریح د اجازې په نه ورکولو هم ماشوم پند اخلي.

۱۲۰- په یاد ولرئ! مناسبه سزا ماشوم په راتلونکي کې له شوخۍ کولو راګرځوي او د غوره والي په لور یې بیایي.

۱۲۱- په یاد ولرئ چې پیغمبر ﷺ هېڅکله کوم ماشوم نه دی وهلی. په نبوي دور ﷺ کې یوه بېلګه هم داسې نه موندل کېږي چې پیغمبر ﷺ دې کوم ماشوم وهلی- ډبولی وي یا سزا ورکړې وي. له همدې امله له وهلو ټکولو باید د امکان تر بریده ځان وساتئ.

۱۲۲- لومړی ځل چې ماشوم کله شوخي وکړي نو مه یې وهئ، بلکې په مناسب ډول یې تنبیه کړئ او په راتلونکي کې د داسې کار د نه کولو ژمنه ترې واخلئ.

۱۲۳- د سزا د ورکولو پر مهال له سخت زړیتوب څخه کار مه اخلئ. نه د داسې غوسې پر مهال سزا ورکوئ چې له بریده وتلې وي. هسې نه په سزا کې له حده تېرى درنه وشي.

۱۲۴- کله چې د سزا ورکول حتمي وي نو ماشوم ته د سزا علت هم وښیئ چې په فلانۍ تېروتنې دا سزا در کول کېږي.

۱۲۵- ماشوم باید هېڅکله دا احساس ونه کړي چې هغه ته د سزا له ورکولو تاسې خوند اخلئ یا مو زړه ته پرې ارامتیا رسېږي. دا ډېر ناوړه ظلم دی.

۱۲۶- د خلکو په مخکې ماشوم مه وهئ. په ځانګړي ډول د هغه د ملګرو په شتون کې هغه مه وهئ یا رټئ. هو، د ملګرو په شتون کې په عمومي ډول د تېروتنې د په ګوته کولو او له هغه د ځان ساتنې تاکید وکړئ.

۱۲۷- ماشومان په مخ مه وهئ. په وهلو کې سختي مه کوئ. ډېر په زور یې مه وهئ، داسې نه چې له بریده زیات کړاو ورته ورسېږي. له لرې څخه ماشوم په کوم سخت شي مه ولئ، په دې کې د لوی زیان اندېښنه پرته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲۸- ځينې وختونه ماشوم تېروتنه وکړي او منډه کړي او په لاس نه راځي. پلار له هغه سره ژمنه وکړي چې راځه نه دي وهم. په دې وخت کې خپله ژمنه په ياد ساتئ، تر څو ماشوم په تاسې بشپړ باور ولري. داسې نه چې په لاس راتلو سره سم يې ډبول پيل کړئ.

۱۲۹- ماشوم ته دا احساس ورکړئ چې دا وهل ډبول هم ستا د اصلاح لپاره دي، که نه په دې کې مې څه شخصي لېوالتيا نشته؛ ستا مينه ده چې تا رټم، که نه وهل ډبول مې ښه نه ايسي.

۱۳۰- ماشوم د سزا له فلسفې نه خبر کړئ. هغه ته وښيئ چې سزا يوازې د کړاو رسولو او تکليفولو لپاره نه وي، بلکې دا يوازې او يوازې د تأديب لپاره ورکول کېږي.

له الله تعالی نه موږ د لارښوونې او په نېغې لارې د تلو د توفيق غوښتونکي يو. او درود او سلام دې وي په هغه نبي کريم ﷺ چې زموږ د ټولو د سرونو تاج او په ټولو مخلوقاتو کې افضل دی.

**نسال الله الهداية والتوفيق والسداد و صلی الله وسلم علی نبينا محمد علی اله و صحبه اجمعين**

## پای

رحمت شاه (فراز)

احمد شاه بابا مېنه، کابل- افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**